AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوار سنگروال

۲۰۲۵/۰۹/۲۴

# میرویس نیکه، خپلواک که تولواک؟

## ۳برخه

**میرویس هوتک نه وروسته ،**

سره د دې چې ده دوه زامن درلودل، یو یې محمود، چې ۱۸ کلن وه او بل یې حسین وه، چې عمریې د ۱۴ کالوپه شاوخواکې یقیني و، ولي بیا هم د یوې ځلوبښت کسیزې جرګې له خوا، چې د بیلابیلو قومونو استازو او خانانو ګډون کړی وه، ورور یې عبد العزیز خان د میرویس خان ځای ناستي وټاکل شو.

کروسنسکي د میر عبد العزیز خان نوم، میر عبد الله یاد کړیدی، او وایي چې «میرویس ځخه وروسته ورور یې میر عبدالله د هغه پرځای کیناست، ده جنګ او جګړه نه خوښوله ، افغانان یې راټول کړل، چې قزلباشانو سره روغه وکړي. میرویس خان له محمود سره مینه درلوده، د خپل وفات په مهال ده خپل ورور ته سپارښتنه وکړه چې هغه له ځانه بیل نه کړي ...»[1]ملیسون، جان ملکم او سید جمال الدین افغاني هم د کروسنسکي د خبرو پخلی کړیدی اوهغه یې عبد الله بللي دی،ولي جهانګشای نادري مجموع التواریخ، اسلامي دایرة المعارف، روضة الصفای ناصري، سلطان محمد، شیر محمد او یو شمېر نورو دی د میر عبد العزیز خان په نوم یاد کړیدی، نه د میر عبد الله په نوم.

یو شمېر تاریخپوهان انګېري، چې ده صفوي دربار ته لیک واستوه، چې که دی د کندهار د صوبدار په توګه ومني او دده په کور کې همدغه مقام میراثي کړي، صفویان به له دوی مالیه نه ټولوي او خپل پوځونه به نه لېږي ، نو دی به هیڅکله د صفویانو له امر نه سرغړونه ونه کړي.

لکه دمخه چې وویل شول محمود تر ډېره بریده له خپل اکا سره مل واو دغه لیک چې ده لیکلی وده ګوتو ته ورسېد، نو له ډېرې غوسې یې توره راوویښته او هغه یې وواژه او بیا یې لیک خلکو ته ولوست او ورپسې، د پلار د وصیت له مخې د صفویانو پر وړاندې جهاد اعلان کړ.

افغانان له پارس نه تر هندوستانه نومي کتاب کې په دې اړه بیا داسې راغلي دي، چې میر عبد العزیز خان په دې اړه یوه جرګه راوبلله او ورته وې ویل:

«دوستانو موږ ډېره قرباني ورکړې ده، اوس له صفویانو سره روغې جوړې ته اړیتا ده، ښایي تاسو هم لما سره دا خبره ومنئ، چې نور باید د خپلو ځوانانو وینې تویې نه کړو.»[2]

لیکوال په دې ټینګار کړی، چې لومړی خو جرګې دده دغه پریکړه ونه منله، نو بیا یې په پټه یو استازی صفوي دربار ته واستوو. دویمه خبره دا ده، چې دغه لیک میر محمود هوتک ته په لاس ورغی، چې میر عبد العزیز خان ، صفوي واکمن ته کښلی و، چې د هغه او نورو له غبرګون سره مخ شو.

غبار په دې اند دی، چې میر عبد العزیز خان د میرویس خان په پرتله د کفایت او سیاسي اهلیت ښتن نه وه، چې د حکومت چارې سمبال کړي . »

د میرویس خان خلاف په لومړی سر کې ابدالي مشران لکه د حیات سلطان زوی عبد الله خان او د دولت خان زوی زمان خان، له ده ځخه خوابدي شول، له کندهاره ووتل، په فراه او هرات کې واړول.»[3] پوهاند حبیبي د میر عبدالعزیز د وژلو په تړاو د پټې خزانې له قوله لیکلي دي، چې په ۱۱۲۹ ه کال د شپې له خوا د نارنج له قصره له بامه خطا شو او ومړ.»[4]

کومه جرګه چې میر عبد العزیز خان رابللي وه، «د جرګې غړو د هغه خبرې واورېدې او په مشرانو ښې و نه لګېدې، نو ځکه دغو مشرانو د هوتکیانو تر واک لاندې سیموکي ، څلوېښت زرو په شاوخوا کې مشرانو او ځوانانو د میر محمود شا وتړله او دغه ۱۹ کلن (نولس) ځوان یې پاچا کړ.»[5]



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د میرعبد العزیز پر وړاندې نه یوازې قومي مشران ودرېدل، بلکې د ده د کورنۍ ډېر نږدې غړي لکه دده وراره د یحیی خان زوی یار محمد خان، د هند سفیر دده ورور «انګو خان» او ان د ده ځوان زوی میر اشرف هوتک، دده له دغو کړو وړو خوابدي شول.
د همدې لاملونو له مخې د میرویس هوتک مشر زوی میر محمود هوتک د مشرانو له خوا، چې د میر عبد العزیز خان مشر زوی میر اشرف هوتک هم حاضر وه پاچا وټاکل شو.
شاه محمود هوتک
کروسنسکي شل (۲۰) کاله په ایران کې و، نو ځکه خو ترپوه برېده د وخت د تاریخي پېښو عینی شاهد ګڼلی کېږي ده د میر محمود هوتک د ټاکنې په تړاو داسې کاږلي دي:
«د میر محمود تره، میر عبد الله (میر عبد العزیز خان، لیکوال) له عجمو سره (هغه وخت ایرانیان، عجمیان بلل کېدل، لیکوال) په روغه جوړه کې همغږی و، تره (کاکا) مې د خپل قوم سره خیانت او درغلي وکړله ، غوښتل یې زموږ ګریوان بیا دښمن ته په لاس کې ورکړي. کوم مکتوب چې ده پاچا ته لیکلی وه، هغه مې افغانانو ته ولوست ، افغانانو محمود سره مینه او محبت کاوه، هغه یې د پلار پر ځای کښیناوه او هغه د لښکر د تنظیم په فکر کې شو.»[6]
د ملیسون د څرګندونو له مخې میر عبد العزیز خان د مارچ په میاشت کې (۱۷۱۶ ز کال) په کندهار کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې ، نو پر همدې بنسټ محمود ته په ۱۷۱۶ ز کال په کندهار کې د پاچاهۍ پګړۍ ورپه سر شوه او د پلار وصیت له مخې وېتیله چې د صفویانو سلطنت نسکور کړي.
ده د خپل پلار د سپارښتنې پخلی وکړ، د هغې سیاسي کمزورۍ له مخې چې صفوي دولت ورسره مخ وه، وېتیله چې د خپل ملي حکومت ستنې نه یوازې ټینګې کړي، بلکې هغه ته پراختیا او پرمختیا ورکړي.
ولې له بده مرغه چې ده د میرویس نیکه د وصیت هغې برخې ته پاملرنه ونه کړه، چې ورته سپارښتنه شوې وه، د قومونو یووالي ته به ژمن پاتې کېږئ، خوبیاهم«هوتکي شاه محمود په داسې مهال کندهار کې واک ته ورسېد، چې په هرات کې خلکو د عبد الله خان ابدالي په مشرۍ پاڅون وکړ او د صفویانو واک ته یې د پای ټکی کېښود.»[7]
که چېرې شاه محمود هوتک له ابدالي مشرانو سره، د میرویس هوتک په څېر ګډه ژبه پیدا کړې وی، ښایي د اصفهان په نیولو کې به دده ستونزې کمې شوې وی.
که هم دغه ټوله ملامتې یوازې شاه محمودهوتک پورې اړه نه درلوده ، بلکې دهرات ابدالیانو ته هم په کاروو،چې دملي یووالي په رڼا کې یوې ګډې پرېکړې ته رسیدلي وی .
هغه وخت چې دهرات ابدالیانودهرات شاو خوا سیمې دصفوي حکمران قلي خان له واکه ازادې کړې، نو بیا دعبد الله خان ابدالي زوی اسدالله خان دخپل واک اوځواک دپیاوړتیا او پراختیا لپاره فراه ته مخه کړه او شاه محمود هوتک هم (۱۷۱۹ ز کال) د یوه سخت غبرګون له مخې فراه تر ګواښ لاندې ونیو او په دلارام کې اسد الله ووژل شو.
دواړو ځوانو واکمنو اسد الله ابدالي او شاه محمود غلجي تېرې بد مرغۍ چې کله کله به یې قومي ناندرېبو ته لاره اواره کړله ، بیا راغبرګه کړه.
یو شمېر انګېرنې شتون لري، چې د «دلارام» جګړه دواړو غاړو ته خواشینونکې وه او ان محمود هوتک په هغه کار ډېر پښیمانه و، چې د خپل تربره اسد الله خان ابدالي سر یې د شاه حسین صفوي د وېرولو لپاره د هغه دربار ته واستوو.
د سراولف کارو له څرګندونو څخه هم ښکاري، چې «یوه بله افغاني قبیله، ابدالیان نومېدل د ایرانیانو د مخ په ځوړه حالت څخه په ګټې اخستو سره د مشهد او هرات تر منځ سیمو کې په فعالیت لاسپورې کړی وه ...محمد زمان خان او حاجی جمال خان تر مشر تابه لاندې ابدالیانو هم مشهد له ایرانیانو څخه نیولی وو.»[8]
د سراولف کارو او کروسنسکي له څرګندونو څخه بریښي، دا چې هوتکیانو په هرات برید ونه کړ او شاه محمود هوتک د فراه او سیستان له لارې په کرمان ورغی، ښایي یو لامل همدا وي چې نه یې غوښتل له ابدالیانو سره په جګړه کې ښکیل شي او اصلی دښمن، صفوي واکمن ترې پاتې شي.
دلته دی چې کروسنسکي کاږي «د میر اسد الله سپاهیان د مرستې لپاره د محمود لښکر سره یو ځای شو او جنګي لیکې پیاوړې کړې. په لومړي سر کې د صفي قلیخان لښکر د جنګ تصمیم ونیو او حمله یې وکړه ، د قزلباشانو لښکر مات او ووژل شو ، افغانانو ددوئ لښکر او لوازم پخپله ولکه کړل او ډېر خوښ شول.»[9]
«افغانان له پارس نه تر هندوستانه «نومي کتاب کې هم د دې خبرې پخلی شوی دی چې:
« د یوې جګړې په ترڅ کې اسد الله خان ومړ، ولې بیا هم د محمد هوتک په څېرمشرانوکوښښ کاوه چې د ابدالیانو او غلجیانو تر منځ یووالی ټینګ کړي. نو ځکه خو دوی د فراه له جګړې وروسته ډېر ژر بېرته کندهار ته ستانه شول، که څه هم یوشمېرتاریخپوهان په دې فکر دي،چې محمود د پلار په څېر د تجربې څښتن نه و او دا ځکه چې په تنګی ځوانی کې واک ته رسیدلی وه.»[10]
شاه محمود هوتک چې په کندهار کې کوم پیاوړی لښکر جګړې ته چمتو کړی وه، چې ایران لاندې کړي، سیستان کې په دې غور کوه، چې له کومې لارې اصفهان ته ځان ورسوي؟ که څه هم ده له مخه یو لیک صفوي شاه حسین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ته استولی وه، که چېرې صفوي جنګیالي له خراسانه په هرات برید وکړي، نو موږ به له کندهاره خپل ځواکونه هغه لور ته وخوځوو.
په ۱۷۲۰ ز کال لکه د یوې اسماني تحفې په څېر، چې دغه مهال محمود هوتک په سیستان کې وه، چې د کرمان د خلکو بلنه یې ترلاسه کړه، چې دوی د بلوڅانو د مشر «شهداد» له ګواښ او لوټ نه وژغوري. په دې تړاو سلطان محمد خان بارکزی پخپل ګټور اثر په «تاریخ سلطاني» کې د دې خبرې پخلی کړی او داسې یې کښلي دي:
«بلوڅانو د اصفهان د مرکزي حکومت د کمزورۍ له امله وپتیله، چې کرمان لاندې کړي، نو خلکو فکر وکړ، چې اصفهان نشي کولی دوئ د بلوڅو له یرغل نه وژغوري، نو بیا یې محمود ته بلنه ورکړه، چې دغه وخت په فراه کې وه، کرمان ته راشي او دوئ د بلوڅانو له شره وژغوري.»[11]
د شاه محمود هوتک ځواکونه په ډېرې اسانۍ کرمان ته ورسېدل او هغه ښار یې کلابند کړ، ولې بیا هم د مشهد نامتو سردار لطف علي خان له یو شمېر جنګیالیو سره سیمې ته راورسېد ل او دا هغه مهال دی، چې د محمود هوتک یو نامتو سردار سلطان بیجن لکزي فراهي، چې دی یې د کندهار والي ټاکلی وه، د یوه زنداني په مرسته چې ملک جعفر سیستاني نومېده اړودوړ او شورش وکړ، د کندهار د کلا ساتوونکي یې ووژل.
کله چې شاه محمود هوتک خبر شو ډېر ژر له کرمان نه مخ په کندهار راوخوځېد، خو پخوا تر دې چې محمود کندهار ته ورسېږي، د کندهار ولسونه د هغوئ پر ضد پاڅېدل او د «تاریخ جهانکشای نادری» په قول «افغانان چې کله خبر شول کلا ته ننوتل.»
سلطان بیجن لکزي او ملک جعفر سیستاني یې ونیول او د قلات له فارسي ژبو سره یو ځای یې ووژل، محمود هوتک د پېښې له خبرېدو سره سم د کندهار په لور حرکت وکړ.»[12]
په دغه وخت کې د اصفهان حکومت له ډېرو بیلابیلو ستونزو سره لاس و ګریوان وو، لومړی پخپله د صفوي شاه حسین اداره په اخلاقي فساد کې ډوبه وه، دویم په شیراز کې د «لزکي» وګړو پاڅون او همدا ډول د کردانو او په سر کې د بلوڅانو پاڅون، چې په ۱۷۲۱ ز کال یې د عباس بندر لاندې کړ.
له دې پرته د «بحرین» استازي د اصفهان واکمنو ته خبر ورکړ، چې د «مسقط» امام یاني د مسقط پاچا د بحرین ټاپو له موږه ونیوله، اوس یې لاس راغځولی، چې د عباس بندر ولکه کړي.
«ایران د بېرون نه د یوه سر پټي دیګ په څېر ښکارېده، ولې کله به چې چا د دیګ مینځته سر ښکاره کړ، نو بیا به سړی پوه شو چې دیګ کې دننه څه دي؟»[13]
ولې دا چې په اصفهان کې دننه څه دي؟ په دې شاه محمود هوتک ډېر ښه خبر و، نو ځکه خو یې پریکړه وکړه، چې په صفوی شاه حسین برید ته چمتو والی ونیسي.
صفوي واکمن په دغه مهال له دوه سترو ګواښونو سره مخ وه، له یوې خوا د هوتکیانو برید او له بلې خوا د عباس بندر ته پیښ شوی ګواښ. نو ځکه خو صفویانو له پرتګال نه یوه بېړۍ په کرایه ونیوله او بیا یې وغوښتل چې شاوخوا پنځوس زره قزلباشان هغه بندر ته واستوي. خو د کرایه د نه ورکړې له امله پوځونه په نیمه لار کې پاتې شول.
شاه محمود هوتک د اصفهان په لور
لکه چې وویل شول عبد الله خان ابدالي د هرات د خلکو په ملاتړ، د ایران د حکومت واک او ځواک له مینځه یووړ او د خپلواکی اعلان یې وکړ.
کله چې صفوي دولت خبر شو، چې شاه محمود هوتک غواړي په اصفهان یرغل وکړي، نو صفوي پاچا شاه حسین او درباریانو یې فکر وکړ، چې ګني محمود هوتک غواړي د کسات او انتقام لپاره د ابدالیانو د ځپلو په موخه لومړی هرات ته لاړ شي ، نو ځکه خو دوئ په دې اند وو، چې شاه محمود هوتک د ابدالیانو او صفویانو ګډ دښمن دی، خپل ځواکونه او جنګیالي یې هرات لور ته وخوځول.
ولې محمود برخلاف په ۱۷۲۲ کال د جنوري په میاشت کې د دویم ځل لپاره، چې د لومړي ځل په پرتله ځواکمن و، بیا مخ په کرمان وخوځېد.
له ده سره لس زره (۱۰۰۰۰) پښتانه جنګیالي او اته زره (۸۰۰۰) تاجک، ازبک، هزاره او نور ځواکونه مل وو (غبار دغه شمېره ۲۸ زره یاده کړېده) اومحمود هوتک د تېر په څېر فکر کاوه، چې د کرمان وګړي به له ده نه بیا ملاتړ وکړي، ولې هغو ده ته اجازه ورنکړه، چې ښار ته ننوځي. یو شمېر ایراني تاریخپوهان پدې اند دي دا ځکه چې «لطف علی خان» د پخوا په پرتله ځواکمن شوی وو.
سید مهدي فرخ، په تاریخ سیاسي افغانستان کې ، له ډېره شرمه د شاه محمود هوتک او شاه اشرف هوتک یادونه هم نه ده کړې او لیکلي یې دي، چې «له نادر افشار نه دمخه لویدیځ افغانستان تل د ایران برخه وه.»[14] ولې نادر افشار یادوي خو د هوتکیانو د واک او ځواک یادونه نکوي لکه «لکهارت» چې د هغو ایراني تاریخپوهانو په ځواب کې کاږلي دي، چې ګواکې د قزلباشانو مشر لطف علي خان داغستاني د محمود پر وړاندې د جګړې لپاره کرمان ته لاړ او محمود ته یې ماتې ورکړه ، لکهارت ټینګار کوي دا خبره بېوازې د لطف علي خان لاپې او باتې ګڼلی شو. په مجمع التواریخ کې هم دده د لاپو او د دې خبرې پخلی شوي دي، چې نوموړی «هغه څوک وه چې په بې تدبیرې، غرور او غوسه کې نوم درلود.»[15]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ولې کروسنسکي ویلي دي، چې «کرمان د بېرته نیولو وروسته لطف علي خان د لښکر لپاره خرڅ وغوښت، د کرمان فتحه او د افغانانو ماتې ځنې چاروا‌کو ته د توقع خلاف وه، په دې یې خپله کینه وښوده او د لطف علي د غوښتنې په جواب کې بې پروایي وکړه .»[16]

ولې دا چې شاه محمود هوتک کرمان لاندې کړ یو ستر لامل یې دا هم وو، چې کوم زردشتي وګړي، چې په کرمان کې اوسېدل، د صفویانو د مذهبي تاوتریخوالي نه په تنګ راغلي وو، د محمود هر کلی وکړاو په دې اړه یوه برتانوي سوداګر «جي هانوې» چې شاوخواهغه وخت په اصفهان کې وه داسې کښلي دي:

«زرتشتانو د صفوي دولت د مذهبي سخت ګیرېیو له امله له محمود هوتک سره دشتو او پیسو مرسته وکړه.»[17]

کله چې محمود هوتک کرمان ونیو پرته له ځنډه مخ په اصفهان وخوځېد.

غبار هم د دې خبرې پخلی کړیدی او په دې اند دی چې محمود «د بم او کرمان له نیولو وروسته د اصفهان په لور حرکت وکړ او څرنګه چې د ایران ملت د صفویانو له ظلم نه په تنګ راغلي وو، هیڅ چا د دولت ملاتړ ونه کړ او د هېواد نامتو کسان لکه فتح علي خان او لطف علي خان یا خو یې ړانده کړي ول او یا یې زندان ته تېل وهلي وو، په داسې حال کې چې د هېواد په پلازمېنې کې شپېته زره (۶۰۰۰۰) عسکرو له یوې منظمې توپ خاني سره شتون درلود، د سولې وړاندیز وکړ.»[18] صفوي شاه حسین دي پریکړي ته رسیدلی و، چې شاه محمود په دوی برید نه کوي او غواړي چې دهرات ابدالیان وځپي او له بده مرغه، چې د هرات ابدالی ټبر هغسې هم خپل مینځي ستونزې درلودلې.

یوه ډله ابدالیان د عبد الله خان په مشری او بله ډله هم ددولت خان د زوې محمد زمان خان تر شاه ولاړه وه او پخپلو کې د تر بګنی ناندری وهلې.

شاه محمود هوتک د یوې جګړې په ترڅ کې چې د جنوري میاشت وه د کرمان قومندان «رستم» وواژه او مخ په اصفهان روان شو.

کروسنسکي وایي، چې ما له «عبد الله خان افغان (ایشک اکاسي) څخه پوښتنه وکړه، چې د افغان پوځ شمېر به څومره یې؟ ده راته وویل: «د شاه محمود هوتک په پوځ کې ۱۳ زره پښتانه ۸ زره هزاره ګان او څلور (۴۰۰۰) زره بلوڅان، چې د ټولو افغانانو شمېر «۲۵» زرو ته رسېږي.

افغان ځواکونه ډېر تم نشول د «یزد» له کلا بندی لاس واخست د مارچ په لومړی نېټه (۱۷۲۲ ز کال) د هېواد د پلازمینې اصفهان شاوخوا په شل (۲۰) کیلو متري کې «ګلناباد» ته ورسېدل.

له یوې خوا د شاه محمود هوتک بیساری جرات و، چې په پیاوړي دریځ یې دښمن تر ګواښ لاندې ونیو او له بلې خوا د صفوي دولت خپل مینځیناخوالې او نا یووالی وو، چې د «محمد قلي خان» پلویانو په جګړې ځکه ټینګار نه کاوه، چې پخپل پوځ یې باور نه درلود او د هغوئ جګړه بیزه وړتیا یې د پام وړ نه ګڼله او په دې اند ول، چې باید له ګاونډیانو پوځي مرسته ترلاسه کړي.

ولې د خوزستان والي عبد الله خان په دې ټینګار کاوه چې باید د جګړې له لارې صفوي حکومت د افغانانو د پرمختګ مخه ډب کړي.

خو د هېواد صدر اعظم محمد قلي خان، شاه محمود هوتک ته د اوه دېرش زرو (۳۷۰۰۰) طلایې سیکو او شپږ زره بدرې سپین زرو وړاندیز وکړ، ولې هغه ونه منله او ټینګار یې وکړ، چې لومړی باید د خراسان ولایت، چې دمخه د افغانستان د هېواد برخه وه، بیرته پرېږدی ، دویم باید د سلطنتي کورنی څخه یوه پېغله له «۱۲۵» زرو سرو زرو جهیز سره په نکاح کړي.

د دغه وړاندیز په اړه د صفوي دولت درباریان وېشلي ول او پخپله صفوي شاه حسین خپل ثبات له لاسه ورکړي و او د کروسنسکي د څرګندونو پر بنسټ پاچا «اعتماد الدوله» راووست، غوښتل یې، چې سر یې پرې کړي، خو ملا باشي او حکیم باشي عرض وکړ، چې سر یې مه پرېکوئ او د سترګو په ویستلو یې باید بسنه وشي .

همدارنګه لطف علي خان یې له شیراز څخه راووغوښت او زندان ته واچول شو. (وګورئ ۷۳-۷۲ مخونه) ډېرې داسې بېلګې وې، چې یو شمېر داسې کسانو ته لکه اعتماد الدوله توطېې جوړې شوې او د پښو قرباني شول.

یوه ورځ اعتماد الدوله د پاچا دربار ته راوبلل شو، چې له خپل دریځ نه دفاع وکړي. نوموړی د خپلو خدمتو یادونه وکړه او د خلکو له تاوده هرکلي سره دومره مخ شو، چې ان صفوي شاه حسین له سترګو اوښکې وبهېدې.

پاچا دومره تر اغیز لاندې راغی، چې خپل مشر زوې محمد میرزا ته سپارښتنه وکړه، چې د وطن د دفاع په خاطر له حرمسراې راووځي ، خوهماغه ملا باشي مخالفت وکړ، ورپسې یې دویم زوې صفي میرزا له حرمسرای نه بېرون کړ، خو هغه هم یو شمېر درباریانو ونه مانه او بیا یې خپل دریم زوی طهماسب میرزا د اصفهان نه دفاع په خاطر د جګړې ډګر ته ولېږه، چې د شاه محمود هوتک پر وړاندې وجنګېږي، ولې وسه یې ونه رسېده له زرو (۱۰۰۰) تنو سورو سرتېرو سره «کاشان» ته وتښتېد.

تاریخپوه غبار په دې اند دی، چې عبد الله خوزستان، چې تل یې په جګړې ټینګار کاوه، له پنځوس (۵۰) زره جنګیالیو سره چې ۲۴ درانه توپونه یې هم ورسره وو د جګړې لپاره د اصفهان له ښاره ووت او دغه جګړه دومره خونړۍ وه، چې د هغو درنو توپونو، افغان جنګیالیو ته د سر او مال درانه زیانونه واړول...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ولي افغانانو يوازې د تورو په پړاکا د هغو پر وړاندې مقاومت کاوه او د صفوي ځواکونو توپ خانه يې د سر په وينو لاندې کړه، چې بيا يې د درنو او سپکو توپونو ( زنبورک) لورې دښمن لور ته واړوه او دلسګونو زرو په شاوخوا کې صفوي جنګيالي ووژل.»[19]

د شاه حسين درباريانو او پوځونو خپله جګړه ييزه روحيه له لاسه ورکړې وه ، سره د دې چې عبد الله خوزستان د پاچا ډېر باوری کس و، ولې کوم کار چې ده وکړ داسې انګېرنې را پورته شوې چې ده هم پاچا سره کومه رښتنې خواخوږي ونه ښوده.

دا ځکه چې له دومره ستر ځواک سره يې ولې ماته وخوړه؟ حال دا چې فرانسوي څېړونکی او لرغونپوه «مادام ژان ديولافوا» چې په ۱۸۸۱ ز کال د هغه هېواد لرغونيو ماڼيو د څېړنې په موخه تللی و، ده کارلي دي، چې د افغانانو د يرغل په مهال، چې د صفوي پوځيانو شمېر شپېته (۶۰) زرو ته رسېده، زغرې او وسلې يې هم درلودلی د شل (۲۰) زره افغان جنګياليو له خوا يې ماته وخوړه.»[20]

د ګلنابا د جګړه چې د مارچ په ۸ مه ولې ځنې وايي، ۷ مه (۱۷۲۲ ز) نېټه ښيي د ورځې ناوخته پېښه شوه، له يوې خوا صفوي ځواکونه منظم نه وه، نظم او پوځي ډسپلين يې له لاسه ورکړی وو او له بلې خوا د افغان جنګياليو پياوړې جګړه ييزه روحيه وه او په تيره بيا، کله چې د جګړې ډګر ته افغان ځواکونه نږدې شول، شاه محمود هوتک له خپلو جنګياليو سره وليدل او له اوره ډکه پاروونکي وينا وکړه، وې ويل، زما سرتېرو اتلانو د صفويانو ټول شته تاسو پورې اړه لري، د زمريانو غوندې زړور اوسئ او پام چې نا غېرې ونه کړئ، کنه په سوځنده او وچو دښتو کې به ساه ورکړئ.

دده له متحد پوځ سره مل زرتشتي جنګيالي يې هم وهڅول او ورته ټينګار وکړ، که صفويان بريالي شول تاسو به هر يو له تېغه تېر کړي. بيا نو د زرتشتيانو مشر نصر له کيڼ لورې او د امان الله خان په قومانده افغان پوځ له ښي لورې، په داسې حال کې، چې شاه محمود هوتک د دواړو ځواکمنو جنګياليو په مينځ کې روان وه، په سيال لورې بريد وکړ. جګړه د مارچ په اتمې (۸) د مازديګر په ۴ ځلورو بجو پيل شوه او پنځه ساعته يې دوام وکړ، چې په پاې کې دغه خونړۍ جګړه د افغان ځواکونو په ګټه د شپې ۹ بجې پايته ورسېده.

لکهارت په دې فکر دی، چې په دغه جګړه کې افغانانو ته درنه مرګ ژوبله واووښته، خو «د صفويانو د تلفاتو شمېر د ۶-۵ زرو شاوخوا ته رسېده، حال دا چې د افغانانو مرګ ژوبله د هغوئ په پرتله يو په لس وه»[21] چې د اهرچاته د مبالغې وړ ده !؟

هانوي هم د صفويانو او افغانانو د جګړې پخلی کړيدی او انګېرې، چې صفوي ځواک نوی له پلازمېنې بهر شوی وه، په داسې حال کې، چې ښکلې پوځي يونيفورم، زړه راښکونکې جامې او وسلې، چې په طلايي جواهرو پوښل شوې وې، ښکلې او نازکه پوځي خېمې او په ټوله کې لکه يوې ننداري ته چې ځي، نه يوې جګړې ته ... بل لور ته يې داسې جنګياليو شتون درلود، چې د لمر سوه ځونکې تودوخې مخونه ورته سوه ځولي وو، شلېدلې جامې په تن وې چې د سفر په اوږدو کې خيرنې شوې هم وې ، د جګړې ډګر ته راووتل او يوازې د تورو پړقايې تر سترګو کېده اوبس»[22]

د شاه محمود هوتک د بريالېتوب د لاملونو په لړ کې يو هم دا وو چې ميرويس نيکه ورته هغه ټولې کيسې کړې وې، چې په صفوي دربار کې څه تېريدل؟ له ټولنيز او اخلاقي فساد نه نيولې تر سياسي او پوځي ناندرېو پورې ...د جګړې په ډګر کې هم چې محمود په يوه سلطنتي باغ او ماڼۍ کې د فرح اباد په نوم چې اصفهان ته په پنځه (۵) کيلو متري کې پرته وه، ځاې پر ځاې وو.

لاکهارت د تېرو خبرو د پخلي په ترڅ کې دا هم زياته کړېده، چې د دې سيمې اوسيدونکي ارمنيان ول، افغانانو له دوئ څخه وسلې او پيسې راټولې کړې او ان پنځوس (۵۰) نجونې هم له ځان سره راوستې وې، خو کله چې شاه محمود هوتک خبر شو، نجونې يې بېرته خوشې کړې، ولې ارمنيانو ته ګواښ وشو، چې اويا (۷۰) زره تومنه ماليه به ګالي.»[23]

په داسې حال کې چې دولت پلازاومرکز د اصفهان ښاريان کلابند وو، هيڅا او ان د شاه حسين وليعهد زوې طهماسب هم ورسره مرسته نشوه کولی ،چېدغه مهال د ښار د اوسيدونکو کورنيو شمېر شپېته (۶۰) زره شاوخوا ته رسېده، چې وګړي د شپږو لکو په شاوخوا کې اټکليده.

يوه هالينډي شرکت د مارچ په لسمې (۱۰) نېټې (۱۷۲۲ ز) ديوه پيغام په ترڅ کې د انګريزانو د مرستې خبره کړېده چې د صفوي پوځونو د کمزورتيا پخلی کوي: «باوري سرچنو موږ ته خبر راکړ، چې «منشي الممالک» انګريزانو ته ووېل، اوس هغه مهال راغلی دی، چې تاسو شاه حسين صفوي ته خپله دوستي ثابته کړي ...

انګريز استازي په ځواب کې ورته ووېل، په دې مهال ورته خپله دوستي نشي ثابتولی، ځکه چې دوئ له خپل استوګنځای دفاع نشي کولی، نو د هغه پوځ پر وړاندې به څرنګه ودريږي؟ حال دا چې هغو د ايران دوه ځلويښت (۴۲) زره کسيز پوځ په ګونډو کړ .

مازديګر مهال و، چې «قورچي باشي» او «ايشک اقاسي باشی هم ښار ته راتښتېدلي وو، نو ځکه هغه ټولې اوازې دروغ وختلی، چې «قللر اقاسي» لا اوس هم د افغان ځواکونو پر وړاندې په جګړه بوخت دی.»



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د شاه محمود هوتک جنګيالیو نه یوازې ښار کلا بند کړی وه، بلکې د «عباس پله» په نیولو یې په ښار اذوقه او د خواړو لاره هم بنده کړه ، د ولږې ګواښ دومره بګنوونکی و، چې ښاریانو د خرو، سپیو او پشکو غوښې وخوړلې او ان تر دې چې یو شمېر قصابانو د انسانانو غوښې خرڅولې.
په «عبرت نامه» نومي اثر کې ددې خبرې پخلی هم شویدی، چې «داسې کورنۍ لا هم تر سترګو شویدې، چې د خپلې کورنۍ سره یو ځاې تولو زهر وخوړل او په ګډه ځاې پر ځاې مړه شول.»[24]
صفوي شاه حسین ته بله کومه هیله نه وه پاتې، جلفایي هم له لاسه وتلې وه ، نو پریکړه یې وکړه، چې خلکو او په ځانګړې ډول خپلو سردارانو ته ووایې، چې علیمردان هم ماته وخوړه، د بني اصفهان جګړې هم قطعی برۍ تر لاسه نه کړ، دولس واره دواړو غاړو جګړه وکړه، ولې قزلباشان یو د بل پسې ماتې سره مخ شول .
نوموړی هغه کیسه هم وکړه، چې غلامانو ورته ووېل، موږ له ولږې سره مخ یو، دا چې له ولږې مړه کېږو، ښه به وي، چې له افغانانو سره په جګړه کې په ډله ییزه توګه ومرو، په داسې حال کې، چې غلامانو په چیغو چیغو ژړل او زه ورته ولاړوم. »
پاچا ته هغه شېبې هم وریادې وې، چې د خلکو له خوا شاهي ماڼۍ په ډبرو وویشتل شوه، دوئ د هغوئ پر مخ دروازې وتړلې او په پاې کې د حرمسرای خواجه ګانو توپونه له ساچمو ډک کړل او هغوئ تر اور لاندې ونیول.
سردارانو او په سر کې پاچا ته دا هم خواشینوونکی وه چې «خان حویزه ، د احمد اقا »نه ملاتړ ونشو کړی ، د ولږې او تندې غمیزه خو هر درباري ته څرګنده وه.
کروسنسکي په دې اړه یوه کیسه کړې چې، «یوه ورځ د فرانسوي ایلچی» له کوره راووتم او د انګریزي «بالیوز» کور ته لاړم، د هغه کور مخته مې یوه ښځه ولیده، چې پیشو یې حلالوله، پیشو ورپورې نښتی وه او د هغې لاس یې شوکارې کړی او زخمي کړی و ، ما له ښځې سره مرسته وکړه، پشې مې ورته حلاله کړه څلور میاشتې خلکو د انسانانو د غوښو په خوړلو تېرې کړې او څو تنه قصابان په دې کار اخته وه ، په بازار کې یو تازه مړی ولیدل شو، چې ورنونه ترې پریکړل شوي وو...»[25]
په داسې حال کې، چې د اصفهان کلابندې تر اتو (۸) میاشتو ورسېده، ولې صفوي جنګیالیو وس ونه موند، دغه کلابندې، چې د شاه محمود هوتک ځواکونو له خوا شوی وه ماته کړي او محمود سیستاني چې غوښتل مرسته وکړي د هغه مخه هم ډب شوه.
نو ځکه خو د ولږې کچه تر دې ورسیده، چې خلک د ونو پوټکي، بوټی او وابښه وجوشوي او بیا یې ځان ژوندی وساتي.
صفوي شاه حسین چې په بشپړه توګه خپله روحیه له لاسه ورکړې وه او هیڅ هیله ورته نه وه پاتې، نو وپتېله، چې وروسته له اته میاشتو کلابندې د اکتوبر په یوویشتمه (۲۱) نېټه (۱۷۲۲ ز) له ټولو درباریانو، چاروکو او سردارانو سره، له ښاره بېرون شي او هغه ووچې بیا د فرح اباد ماڼۍ ته لاړ، چېرته چې شاه محمود هوتک اوسېده.
د «هانوي» د روایت له مخې هغه مهال چې صفوي شاه حسین مخامخ شاه محمود هوتک ته ودرېد خپل سلطنتي تاج له سره کوز کړ او بیا یې د شاه محممود هوتک په سر کېښود او ورته وې ویل د ایران سلطنت دی تاسو ته مبارک وي. نوموړي له دې پرته خپله لور هم د فرح اباد په ماڼۍ کې افغان ټولواک شاه محمود هوتک ته، چې دواړه غاړې سرداران او درباریان حاضر وه په نکاح کړه، خو که دغه کار په لومړي سر کې شوی وی دومره ناخوالې به نه وې زیږیدلې.
په عبرت نامه کې راغلي دي، چې دغه دوه ویشت (۲۲) کلن ځوان چې د اصفهان په تخت کیناست د سلطنت کولو اوږده تجربه یې نه درلودله، خو بیا هم دی یو پاک او سپېڅلی انسان و، د سلطنتي دب دبې پروا یې نه ساتله، ساده خواړه به یې خوړل، ساده جامې به یې اغوستې، عیاش او بېباکه انسان نه و، شراب یې نه خوړل، چېرته به چې خوب پرې غلبه وکړه همالته به یې ډېره ولګوله ، په یوه کمیس کې ګرځېده اوتل به د لښکر په مخکې روان و...»[26]
میرمحمود د اصفهان په تخت کیناست
دې کې شک نه وو، چې محمود ساده ژوند درلود، عیاشي او بېباکي سره روږدی نه و، د سلطنت اوږده تجربه یې نه درلوده، ولې یو مودب او سپېڅلی انسان و او هغه مهال، چې دی له صفوي شاه حسین سره، چې دده د عمر نه ډېره موده یاني د دېرشو (۳۰) کالو په شاوخوا کې سلطنت کړې و، مخامخ شو ، د خبرو په ترځ کې هغه ته د پلار خطاب وکړ او په ډېر درناوي یې ورته ووېل، د سلطنت دب دبه تاج و تخت او په ټوله کې د نړۍ شان و شوکت تل بېوفاوي او له هیچا سره تر پایه نه پالي ، خوزه به د سلطنت ټولې چارې ستا په سلا او مشوره سر ته رسووم .
بیا میر محمود د یوه ځانګړي پوځې پرېټ له مخې چې افغانان اوصفوی مشران ورسره وو، لکه صفوي شاه حسین او د هغه صدراعظم سلطان محمد قلي خان، افغان قاضي قضات ملا زعفران او نور چې د دوی په بدرګه روان وو شاهي ماڼۍ ته ورسیدل او د ایران د سلطنت په تخت کیناست ، نوبیایې ټولو درباریانو ته داسې سپارښتنه وکړه:
۱- ټولې لارې پرانیزې او دومره غله دانه ښار ته راولېږدوي چې د اصفهان خلک د خواړود نه شتون له ګواښ نه وژغوري. بیا یې خپلو پوځونو ته سپارښتنه وکړه، چې د اصفهان له خلکو سره مرسته وکړي. چې خپل مړي ښخ کړي.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۲- کوم قزلباشان سرتېري، چې د جګړې په ترڅ کې وژل شوي وه، د يو شمېر انګېرنو پر بنسټ چې شل زرو شاوخوا کسانو ته رسيدل، د دې لپاره چې ښاريان له کومې اوبا او ناروغۍ سره مخ نشي لښکر ته امر وکړ. دغه مړي بايد له ښاره لرې له اسلامي شريعت سره سم خاورو ته وسپارل شي.
۳- يوه پلاوي ته يې امر وکړ، چې د اصفهان ټولې خزانې له چور او لوټ نه وژغوري او بيا يې پريکړه وکړه چې سلطنتي حرمسراى پخپله وګوري .
د کروسنسکي د څرګندونو له مخې محمود د شاهي جامو پرځاى خپلې ويرجنې جامې پر تن کړې او د حرم سراى له مېشتو نر و ښځو، له ميرانو او نوکرانو سره يې يو ځاى ژړل او د هغوئ ستونزې اورېدې.
۴- محمود چې دغه ستره غميزه وليده، که له يوې خوا يې د دغو ناخوالو پړه د اصفهان په شهزادګانو اچوله، چې دا د دوئ بېباکي او عياشي وه چې نن دغه خلک له دا ډول بدمرغي سره مخ دي، خو له بلې خوا يې د دغو وينو تويونو په تړاو د ځان او خپلو جنرالانو پړه هم نه هېروله.
۵- محمود خپلو ټولو ځواکونو ته سپارښتنه وکړه، چې له يوې خوا د حکومت چارې د هېواد پلازمېنې اصفهان نه، ختيځ او سهل ختيځ ته پراخې کړي او له بلې خوا يې خپلو ځواکونو ته هدايت وکړ، چې بايد د هيچا سر او مال ته زيان ونه رسيږي.
په دغه وخت ،دی له دوه ګواښونو سره مخ وه، يو دا چې عثماني ترکې او روسانو د افغانانو دغه پرمختګ د ځان لپاره ګواښ ګاڼه او له بلې خوا د صفوي شاه حسين زوی طهماسب چې کله خبر شو، د هېواد پلازمېنې اصفهان سکوت کړی وونو بيا يې د ايران شمال او شمال لويديځ ته مخه کړه ، په داسې حال کې چې په «قزوين» کې د سلطنت اعلان کړی واو هلته روسي او عثماني ترکيې له ده څخه ملاتړ وکړ، محمود ته د انديښنې وړ وګرځېد.
۶- د اصفهان اداري چارې همغو ماموړينو ته وسپارلې، چې دمخه يې همالته دنده درلوده او خپل تره زوی شاه اشرف يې دېته وګوماره چې د صفوي شاه حسين زوی طهماسب وڅارې ، بيا يې خپل ورور مير شاه حسين هوتک کندهار ته واستوه، چې د کندهار چارې سمبال کړي، دا ځکه چې مير شاه محمود هوتک غوره وګڼله چې د سلطنت چارې د خپل سلطنت له پلاز اصفهان نه اداره کړي.
۷- «کله چې شاه محمود هوتک د اصفهان په تخت کيناست، بيا يې له يو شمېر بهرنيو ډيپلوماتانو سره وليدل، چې موږ په دغه ترڅ کې د فرانسې «ژوزف» يادوو، چې شهنشاه مير محمود هوتک هغه ته ډاډ ورکړ، چې د هغه هېواد ګټې به ساتي.»[27]
۸- افغان محمود په دغه وخت کې خبر ترلاسه کړ، چې د اصفهان په شمال لويديځ کې يو شمېر کورنيو د خوړود نه لرلو له امله ګواښ کړی، چې که محمود هوتک يې شکايت وانه وري ټولوژنه به وکړي !؟
هغه وه چې د اصفهان پاچا مير محمود خپل سپه سالار امان الله خان له درى (۳۰۰۰) زره کسانو سره هلته ولېږل، چې له هغو کورنيو سره هر اړخيزه مرسته وکړي.
۹- لارنس لاکهارت هم د دې خبرې پخلى کړيدى، چې کله شاه محمود هوتک د اصفهان په تخت کيناست نو بيا يې خپلو پوځونو ته ووېل، چې له فرح اباد نه غلې داني او د خواړو نور توکي د اصفهان هغه سيمو ته ولېږدوي چې د خواړو له ګواښ سره مخ دی.»[28]
۱۰- د اصفهان خلک چې ولږې او جګړې ګواښلي ول، دغه ښېې ورته غنيمت وې چې د جګړې ګواښ ورته نه وه او هم د خواړو توکي ورته راورسېدل، نو ځکه خو يو شمېر خلک به د محمود مبارکي ته راتلل او کله چې د اصفهان وګړي له دينه خبر شول، چې صفوي شاه حسين هغه په غېږ کې ونيو او د مير محمود سترګې يې ښکل کړې نو دوی هم پر همدې بنسټ هغه ته د سلطنت مبارکی ورکوله په دې تړاو کروسنسکي داسې کاږلي دي:
«پاچا (صفوي شاه حسين) خپل دولتي چاروا کو ته مخ راواړوه، چې زه ستاسو پاچا وم اوس د تخت و تاج مالک امير محمود دى او زه دده تر حکم لاندې شوم او دی زموږ او ستاسو پاچا دی . بيا يې دی خپل کور ته بوته پر تخت يې کيناوه .
يو افغان شيخ راغی د محمود او سلطان حسين په سر يې لاس کش کړ، بيا يې محمود ته دوعا وکړه او مبارکی يې ورکړه. وروسې د عجمو خلک (موخه ترې ايرانيان دي) راغلل سر يې ورته ټيټ کړ، لمن يې ورته ښکل کړه ، د پاچاهي تاج يې د محمود په سرکېښود.»[29]
کروسنسکي ټينګار کړيدى، چې «د فرنګ باليوزان» (د فرانسې، انګليس او هالنډ سفيران) د پاچا استقبال ته رامخکې شول، په لاره کې پاچا وربېښمن نوکران غوړولي ول ، د حرم خواجه سرايان، مشران، د پاچا نوکران په ادب او درناوی دده ليدلو ته راتلل، ځمکه به يې ښکل کړه او بيا به د خدمت ځاى کې ودرېدل ، په دغه وخت کې ډوډۍ او غوښه په کافي اندازه پيدا کېده.» (هماغه اثر ۱۰۵ مخ)
د اصفهان له نيولو وروسته، کوم جګړه ييز ګواښ چې افغان شهنشاه مير محمود هوتک ته پيښ شو، هغه د صفوي شاه حسين د زوی طهماسب د پلويانو شتون وو، چې په قزوين کې پاځون وکړ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

شاه محمود هوتک د سپه سالار امان الله خان په مشرۍ خپل ځواکونه «قزوین» ته واستول ، خو طهماسب لا دمخه اذربایجان ته تښتېدلی و او په دې هیله چې له عثماني ترکې او روسي څخه د افغان پاچا محمود پر ضد پوځي مرسته تر لاسه کړي.
طهماسب په ۱۷۲۳ کال د سپتمبر په ۲۳ مه نېټه له روسي سره یو تړون لاسلیک کړ، چې د مرستې په بدل کې به روسي ته نه یوازې د کېکاس په شاوخوا کې یو شمېر مو همې سیمې ورکوي، بلکې د ګیلان، مازندران، ګرګان او د خزر د سمندرګی سهل ته پراته ټاپوګان هم به ورسپاري. خو پخوا تر دې چې تړون لاسلیک شي، د روسي پتر کبیر د [30]«اوراموف» په مشرۍ یو پلاوی شاه محمود هوتک ته واستوو.
د لاکهارت په اند: «اوراموف له پاچا محمود نه هیله وکړه، چې د ازبکانو او «لزکیانو» مخه ونیسي، ولې دا چې هغه سیمې دده په واک کې نه وې، نو وې نه غوښته چې مداخله وکړي.»[31]
عثماني ترکیې له یوې خوا خبرتیا ترلاسه کړه، چې د طهماسب پاملرنه د دوئ په پرتله روسي هېواد ته ډېره ده او له بلې خوا افغان ځواکونه د امان الله خان په مشرۍ هلته په «قزوین» کې مصروف دي ،نو دا ورته دانديښنې وړښکاره شوه .
د کروسنسکي د څرګندونو له مخې «قزلباشانو په پټه هغه افغانان چې د دوئ په کورونو کې د میلمنو په توګه استوګن ول له هغو څخه یې اوه زره (۷۰۰۰) افغانان ووژل.»[32]، خودغه شمېردمبالغې وړ دی !؟نو د دغو کړکېچونو له مخې عثماني ځواکونو همدان، ایروان، نخچوان او یو شمېر نورې سیمې لاندې کړې.
روسي او عثماني ترکې ولیدل چې صفویان نور د دې وس نه لري او نه ددې جوګه دي، چې بیا خپله سلطنتي دب دبه ورغا وي ، د همدې لامل له مخې دوئ د جولای په اتمی (۸) نېټې (۱۷۲۴ ز کال) د ایران د وېش یو تړون لاسلیک کړ. . . بل لور ته شاه محمود هم د واک په دې لنډه موده کې دومره ځواکمن شوی نه وه چې ټول ایران کابو کړي او د سختۍ یخنۍ له کبله میر اشرف هوتک او جنرال امان الله خان هم قزوین نه اصفهان ته راستانه شول.
ولی شاه محمود هوتک چې خبر شوچې شاوخوا اوه (۷۰۰۰) زره جنګیالي یې وژل شویدی، دې پېښې دده په اعصابو ډېره بده اغیزه وکړه... داسي انګېرنی هم شتون لري، چې اصفهان ته نږدې عباس پله ته څېرمه، چې دده کوم ځواکونه چې سین یو وړل او یا هم چې ده د اصفهان بوګنوونکی حالت ولید چې خلکو له ولګی سلګی وهلې، دده مزاج یې ګډوډ کړی وو او ان دا چې په خوب کې به ډارېده.
شاه محمود هوتک د قزوین د پیښی له امله چې دده اوه زره ځواکونه ووژل شو د انتقام او غچ اخستو په فکر کی شو.
د کروسنسکي د وینا له مخې چې ګني محمود هم هغه رنګه ورته کار وکړ، لکه څرنګه چې قزلباشانو د شیعه ملایانو په لمسون او سپارښتنه افغانان پخپلو میلمستونو کې ووژل، نوځکه«محمود هم درې زره قزلباش میلمستیا ته حاضر کړل او د ګډواوپسونو په شان یې د قصاب له چړو تېر کړل.»[33]، چې دغه عمل هم دسلطان محمود هوتک په روحیاتوناوړه اغیزه وکړه ... په پای کې دا ټول هغه څه وو،چې دده دمرګ لامل شو.

---

) همدغه اثر ۶۶ مخ[1]
) افغانان له پارس نه......۳۷۳ مخ[2]
) افغانستان در مسیر......۳۲۳ مخ[3]
) د افغانستان لنډ تاریخ ۲۷۳ مخ او پټه خزانه محمد هوتک ۱۰۹ مخ[4]
) افغانان له پارس نه تر........۳۷۳ مخ[5]
) کروسنسکي ۶۶ مخ[6]
) افغانان له پارس نه تر.......۳۷۴۰۰۰ مخ[7]
) سراولف کارو ۳۷۹-۳۷۸ مخونه [8]
) کروسنسکي ۶۸ مخ[9]
) افغان له پارس ۳۷۴ مخ[10]
) بارکزي سلطان محمد خان تاریخ سلطاني چاپ بمبی ۱۸۸۱ ز ۵۴ مخ[11]
) تاریخ جهانکشاي نادري ۱۱-۱۰ مخونه[12]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ